مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۲/۰۹

غزل

له ستم او ستمګرو مه ډارېږه
له جادو او له کوډګرو مه ډارېږه

رالېږل د بم ټوپک د پرَدو کار دی
ته له داسې ترهګرو مه ډارېږه

چې د حورو په هوس کوي قتلونه
دا د مرګ له سوداګرو مه ډارېږه

لر او بر کښې افغانان که سره یو شي
بیا د جنګ له سوالګرو مه ډارېږه

د ژوندون کاروان روان دی پسرلیه
د ژوندون له هېڅ ډګره مه ډارېږه

مصطفی پسرلی
07/Feb/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ